# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


سه شنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۵مه | ۶٤٦مه ګڼه


2 017550 139621

## څېره

۴ مخ

### ماریو پدرو



ماریو پدرو په امریکا کې مینه وال لري او د ده متفاوتو لیکنو او کیسو ته په پام، د نوبل بنسټ په ۲۰۱۰ز کال کې هغه د نوبل جایزې ګټونکی وباله.

# د جګړو دوام ته لمن وهل؛

## طالبان او امریکا د سرتېرو د حضور او ایستلو په اړه یو بل ته ګواښونه کوي



۳

د امریکایي ځواکونو د وتلو او پاتې کېدو معما

۲ مخ

د اقلیمي بدلون حل؛ ستا، زما او د هغه ګډو هڅو ته اړتیا لري

۲ مخ

عودت مهاجران افغان به کشور؛ دیدگاهی دیگر

۳ مخ

## کرنې وزارت: روان کال په هېواد کې د املوکو حاصلات له ۲۵۰۰ متریک ټنو اوښتي



کرنې او مالدارۍ وزارت وایي چې په روان کال کې په هېواد کې د املوکو حاصلات له ۲۵۰۰ متریک ټنو ډېر شوي دي.

د یاد وزارت چارواکي وایي چې سره املوک د هغو مېوو له ډلې دي، چې په افغانستان کې یې کرکېله مخ پر ودې ده. د کرنې وزارت ویاند اکبر رستمي وایي: «په عمومي ډول سږ کال له ۲۵۰۰ ټنو نه ډېر سره املوک په افغانستان کې تولید شويدي.»

د وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په تېر لمریز کال کې افغانستان ۲۳۰۰ متریک ټنه سره املوک تولید کړي وو. لغمان، بلخ، ننګرهار، تخار او کابل هغه ولایتونه دي، چې تر ټولو ډېر املوک پکې تولیدېږي.

بلخوا د ننګرهار د کرنې اوبو لګونې او مالدارۍ ریاست ویلي چې په روان کال کې په دغه ولایت کې پر ۶۰۰ جریبه ځمکې باندې د املوکو د ونو بڼونه جوړ شوي دي.

## ولسي جرګه: حکومت دې ژر تر ژر پاتې نوماند وزیران د رایې اخیستو لپاره را معرفي کړي

د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني یوځل بیا له حکومته غوښتي چې د هغو نوماندان وزیرانو پر ځای نوي معرفي کړي، چې د باور رایي په اخیستو کې پاتې راغلي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان حکومت څه وخت مخکې د نوې کابینې ۲۵ نوماند وزیران ولسي جرګې ته د باور رایو اخیستو لپاره معرفي کړي وو.

خو له یادو ۲۵ نوماند وزیرانو یې ۲۰ هغو د باور رایې ترلاسه کړې او پاتې نورو پنځو نوماند وزیرانو له ولسي جرګې د باور رایه ترلاسه نه کړه.

د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني تېره ورځ د جرګې عمومي غونډې ته وویل چې حکومت دې د پنځو هغو وزیرانو پر ځای نور وزیران ولسي جرګې ته معرفي کړي، چې له دې جرګې یې د باور رایې نه دي اخیستي.

د نوموړي په وینا، سرپرست وزیران بېځایه او غیر قانوني ګومارنې کوي او حکومت باید د دغه کار مخه ونیسي. رحماني زیاته کړه، ولسمشر دې ور کسان د نوماند وزیرانو په توګه ولسي جرګې ته ور وپېژني.

د یادونې ده چې د تېره کال په ولسمشریزو ټاکنو کې له سیاسي کړکېچ وروسته، د هېواد سیاسي واک د دوو مخکښو نوماندانو اشرف غني او عبدالله ترمنځ ووېشل شو چې له مخې یې ۵۰ سلنه کابینه د ولسمشرغني او ۵۰ سلنه نوره یې د ملي مصالحې د عالي شورا د مشر عبدالله برخه ده.

## نړیوال په افغانستان کې په مشروط ډول سوله غواړي



۵ مخ

## وزارت صحت‌عامه: شمار جان باخته‌گان ویروس کرونا در کشور به ۱هزار و ۹۷۵ تن رسید



وزارت صحت‌عامه، از ثبت ۲۱۱ رویداد تازۀ مثبت ویروس کرونا در سراسر کشور خبر می‌دهد.

بربنیاد معلومات این وزارت، در یک شبانه‌روز گذشته، ۱ هزار و ۴۴۲ نمونۀ مشکوک ویرس کرونا آزمایش شده‌اند.

وزارت صحت می‌گوید که در ۲۴ ساعت گذشته چهار تن در نتیجۀ این بیماری جان باخته‌اند و ۲٦ تن دیگر، بهبود یافته‌اند. با ثبت رویدادهای تازه، آمار کلی ویروس کرونا در کشور به ۴۹ هزار و ۴۸۴ رسید.

رویدادهای مثبت ویروس کرونا در یک شبانه‌روز گذشته در ولایت‌های کابل (۴۳)، هرات (۲۰)، کندهار (۷)، بلخ (۳٦)، ننگرهار (۸)، بامیان (۵)، کندز (۱۰)، پروان (۱۵)، نیمروز (۳)، غزنی (۳)، لوگر (۲)، وردک (۱)، هلمند (۴)، لغمان (۱۴)، کنر (۳)، کاپیسا (۲)، پنجشیر (۳۲) و فاریاب (۳)، ثبت شده‌اند.

شمار جان باخته‌گان در نتیجۀ ویروس کرونا در کشور به ۱هزار و ۹۷۵ تن و شمار بهبودیافته‌گان به ۳۸هزار و ۴۱۰ تن رسیده‌است.

از سوی دیگر، مسئولان وزارت صحت عامه، از سیر صعودی ویروس کرونا در کشور خبر داده اند. به گفتۀ آنها ویروس کرونا نسبت به هفته های گذشته، در کشور سیر صعودی داشته و واقعات مثبت افزایش یافته است.

با این حال وزارت صحت عامه، از مردم خواسته است تا برای جلوگیری از گسترش موج دوم بیماری مهلک ویروس کرونا، دستورات صحی را جداً رعایت کنند.




## سرلیکنه

# د امریکایي ځواکونو د وتلو او پاتې کېدو معما

امریکایي نظامي چارواکي وايي چې دوی له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي، خو طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي. په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر ویلي، په دې اړه وروستۍ پرېکړه به د شرایطو پر اساس کېږي او امریکا به هغه وخت خپل ځواکونه له افغانستان څخه وباسي چې د امن او ثبات ډاډ یې تر لاسه کړی وي. تر دې وړاندې ویل شوي وو چې په راتلونکي یوه میاشت کې به دوه زره امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او ۲۵۰۰ نور به پاتې شي.

د امریکا او طالبانو د هوکړې پر اساس باید ټول بهرني ځواکونه د ۲۰۲۱ ز کال د مې میاشتې تر پایه له افغانستان څخه ووځي. بل خوا امریکایي چارواکي او جنرالان د ځواکونو د وتلو په اړه پرله پسې متفاوتې او متضادې څرګندونې کوي، خو رښتیا د ځواکونو وتل له څه سره تړلي دي؟

د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه څرګندونې رښتیا هم متفاوتې او متضادې دي؛ ځکه چې کله پکې د ځواکونو د وتلو او کله هم د پاتې کېدو خبرې کېږي. کله وتل له شرایطو سره تړلي وي او ډېری وخت خو بېخي هېرېږي چې د ځواکونو د وتلو په اړه د طالبانو او امریکا ترمنځ یوه هوکړه شوې ده. له همدې کبله پر څرګندونو ډېر حساب نه کېږي، بلکې په عملي ډول باید وکتل شي چې ځواکونه وځي او که نه. تر اوسه پورې امریکایي ځواکونه په پرله پسې ډول وتلي، ځینې اډې یې خالي کړې او اَن خپل تاسیسات یې هم تخریب کړي او ځینې وسایل یې ایستلي دي. داسې ښکاري چې امریکا له طالبانو سره پر هوکړه عمل کوي او تر اوسه پورې د ځواکونو وتل هم د همغو دریو پړاوونو پر اساس دي چې له طالبانو سره پرې هوکړه شوې ده. لومړی پړاو بشپړ شوی، چې پکې ډېر امریکایي ځواکونه وتلي دي. دویم پړاو هم د بشپړېدو په حال کې دی چې پکې به د امریکایي ځواکونو شمېر ۲۵۰۰ ته راکم شي. دریم پړاو بیا دا دی چې د ځواکونو شمېرې پکې صفر شي. د دریم پړاو په اړه شک او اندېښنې شته چې امریکایي ځواکونه ښایي یا پکې ځنډ راولي او یا یې هم هېڅ عملي نه کړي او همدا چاره به د طالبانو او امریکا د هوکړې برخلیک ټاکي.

که پاتې امریکایي ځواکونه هم په ټاکلې مرحله کې ونه وځي، نو دا به د هوکړې د نقض مانا ولري او په طبیعي ډول به طالبان هم د هوکړې نقض ته مخه کړي. طالبانو پخوا ویلي وو چې که امریکایي ځواکونه په ټاکلي وخت کې ونه وځي، بریدونه به پرې وکړو او پرون بی بی سي د طالب چارواکو په حواله یو ځل بیا دا خبره تکرار کړې ده. له همدې امله د امریکایي ځواکونو پاتې کېدل د طالبانو او امریکا ترمنځ د جګړې د بیا پیل په مانا ده چې دا چاره نه طالبان او نه هم امریکایان غواړي. طالبان سوله بریا ګڼي او امریکایي ځواکونه که بېرته جګړه پیلوي، نو ډېر ځواکونه یې بېرته باید را وګرځي چې دا چاره امریکا ته ډېره سخته ده او ناوړه پایلې به ولري.

امریکایي ځواکونه باید په ټاکلي وخت کې له افغانستان څخه ووځي او افغان لوري هېڅ داسې څه باید ونه کړي چې د ځواکونو پاتې کېدو ته زمینه برابره کړي. د جګړې کمول، په سوله کې پرمختګ او توافق به له دې سره مرسته وکړي چې ټول امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. له همدې کبله ټول افغانان باید یو بل ته لاس ورکړي چې امریکایي ځواکونه ووځي او افغانستان خوندي شي.

# د اقلیمي بدلون حل؛ ستا، زما او د هغه ګډو هڅو ته اړتیا لري



لیکوال: شي مونګ
ژباړنه: زرینه - د چین میډیا ګروپ د پښتو ځانګې خبریاله

د چین او افغانستان د مشرانو په ګډون، د ډېرو هېوادونو مشرانو د روانې میاشتې په ۱۲مه د اقلیمي بدلون د لوړې ارزو په نړیواله سرمشریزه غونډه کې ګډون کړی و. داسې ښکاري چې دغه غونډه ډېر مهم ارزښت لري. عام خلک ښایي د اقلیمي بدلون لویې موضوع ته ډېر متوجه نه وي، خو سږکال د کووېډ-۱۹ وبا د رامنځ ته کېدو له امله هر کس اړ شوی، چې له طبیعت سره د انسانانو اړیکو ته بیا کتنه وکړي. انسانان په یوه داسې ټولنه کې ژوند کوي، چې ټول ګډ برخلیک لري، نو اقلیمي بدلون هم پر تا، ما او هغه یانې پر هر کس اغېز کوي او حل یې زموږ ګډو هڅو ته اړتیا لري.

په نړۍ کې د اقلیمي بدلون په اړه علمي څېړنې لاهم روانې دي، دغه څېړنې په یو اوږدمهال او پېچلي بهیر کې تر سره کېږي. اقلیمي بدلون په دریو برخو کې احساسیږي:

لومړی؛ په نړۍ کې د هوا تودوخه لوړه شوې ده. دویم؛ د تېزابو باران اوربدلی. دریېم؛ د اوزون پوړ ویجاړ شوی دی.

په دغو دریو برخو کې د هوا تودوخې لوړتیا د انسانانو پر ژوند تر ټولو زیاتې بدې اغېزې کړې دي. د بېلګې په توګه، د یخ کنګلونه ویلې شوي، سمندري سطحه لوړه شوې، ځینو سیمو کې وچکالي او ځینو کې سېلابونه رامنځ ته کېږي او د غلودانو حاصلات هم کم شوي دي. نږدې دوو سوو هېوادونو چې مخکې یې د ملګرو ملتونو د اقلیمي بدلون چوکاټي تړون لاسلیک کړی و، د ۲۰۱۵ کال په ډسمبر کې د یادو ستونزو د حل په موخه په پاریس کې یوه غونډه تر سره کړه او یو نوی تړون یې پکې لاسلیک کړ، چې اوس د پاریس تړون په نوم یادېږي. دغه تړون له کیوټو پروتوکول وروسته، د اقلیمي بدلون دویمه قانوني بڼه لرونکی تړون دی او له ۲۰۲۰ کال وروسته له اقلیمي بدلون سره د نړیوالې مقابلې لپاره لارښوونه پکې شوې ده. نړیوالې ټولنې د اقلیمي بدلون مخنیوی یو بېړنی کار بللی او پر دې باور ده، چې دغه کار د بېلابېلو هېوادونو ګډو هڅو ته اړتیا لري، نو ځکه یې له دغه تړون څخه ټینګ ملاتړ کړی دی.

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني د روانې میاشتې په ۱۲مه د اقلیمي بدلون په اړه د لوړې ارزو سرمشریزې غونډې ته په وینا کې وویل، د اقلیمي بدلون له درکه افغانستان یو له اغېزمنو هېوادونو دی، پر دې سربېره، په دغه هېواد کې د جګړو له امله د ځنګلونو پرې کول هم بله هغه ستونزه ده، چې په افغانستان کې د وچکالیو، سېلابونو او نورو ناورینونو سبب ګرځېدلی شي. په تېرو نږدې ۲۰ کلونو کې د افغانستان پر انرژۍ او سرچینو هېڅ پانګونه نه ده شوې، په پلازمېنې کابل کې برېښنا ته د خلکو اړتیا لا هم نه ده پوره شوې، خو په حقیقت کې په افغانستان کې د پاکې انرژۍ د پرمختګ په برخه کې پراخ ظرفیت شته او ۳۰۰ زره میګاواټه برېښنا د لمر، اوبو او باد څخه تولیدېدلی شي، نوموړي هیله وښوده چې نړیواله ټولنه په دې برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي.

چین د نړۍ تر ټولو لوی پرمختیایي هېواد دی، خو د یوه مسوولانه منونکي هېواد په توګه د اقلیمي بدلون او داسې نورو لویو نړیوالو موضوعاتو په برخه کې خپل مسوولیت ته ژمن دی. د چین رهبر شي جین پینګ په یاده غونډه کې د اقلیمي بدلون د مخنیوي په اړه د خپل هېواد وړاندیزونه بیان کړل او ځینې اقدامات یې اعلان کړل. نوموړي په خپله وینا کې پر ګډې همکارۍ، مشترکو خو توپیر لرونکو دندو او شین ژوند تاکید وکړ او ویې ویل، چې چین د اقلیمي بدلون پر ضد د پاریس تړون د لاسلیک لپاره مهم خدمتونه کړي او د دغه تړون فعال عملي کوونکی هم دی. چین به تر ۲۰۳۰ کال پورې د چین د کورنیو تولیداتو ارزښت په اړوند د کاربن دوه اکساید د ایستنې منځنۍ اندازه د ۲۰۰۵ کال په پرتله ٦٥ سلنه کمه کړي، د غیر نفتي انرژۍ د استعمال اندازه به د دوباره نه کارېدونکو انرژیو د لګښتونو په اندازه کې ۲۵ سلنه برخه ونیسي، د ځنګلونو د زېرمې اندازه به یې د ۲۰۰۵ کال په پرتله ٦ میلیارده متره مکعب زیاته شي او د بادي او لمریزې انرژۍ په وسیله د توربینونو تولید د ظرفیت اندازه به یې تر یو میلیارد او دوه سوه میلیونه میګاواټه زیاته شي.

ځمکنۍ کره زموږ ګډ او یوازینی کور دی او اقلیمي بدلون پر تا، ما او هغه یانې پر هر کس بد اغېز کوي. موږ اوس له کووېډ-۱۹ وبا، اقلیمي بدلون او داسې نورو نړیوالو ننګونو سره مخامخ یوو، نو دغه کارونه چې حل یې د انسانانو د ګډ برخلیک ټولنه جوړوي، تر ټولو لازم او بېړني ښکاري. چین به له افغانستان او نورو هېوادونو سره ګډې هڅې وکړي، څو له اقلیمي بدلون سره په نړیواله مقابله کې نوی پرمختګ ومونډل شي.

# د افغانانو د ژوند یو نا ویلی داستان

جاوید کوټوال

د ۲۰۱۲ز کال د مارچ په یوولسمه، یو امریکایی سرتېری د کندهار په پنجوایي ولسوالۍ کې په نیمه شپه د خلکو پر کورونو ور واوښت، شپاړلس ملکي او بېګناه خلک، چې نهه یې کوچنیان وو، ووژل. د افغانستان او نړۍ رسنۍ یې په خبرونو ستړې شوې، خو وروسته امریکایانو وویل، چې یاد سرتېري رواني ناروغي درلوده او خبره پر همدې خلاصه شوه.

د وردګو په تنګي دره کې ظفرخان یې په دې خاطر وواژه، چې په بایسکل تېز روان و او دوی پلمه وکړه، چې موږ د طالب ګومان پرې وکړ. په همدې دره کې د امریکایي سرتېرو اډې ته د نږدې کور اوسېدونکی ډاکټر عبدالقادر یې په رڼا ورځ وویشت او هېڅ بهانه یې هم نه درلوده.

په ۲۰۰۹ ز کال کې بهرنیانو په ارزګان کې یو عام وګړی، په شنه سهار له موټرسایکل ښکته کړ او مېرمن یې په سپېره دښته کې پرېښوده، دوی د ترهګر په نوم په بګرام کې بندي کړ او پرته له دې چې دوسیه یې جوړه او فیصله شي، شپږ کاله وروسته خوشې شو.

درې اونۍ وړاندې، د استرالیا دفاع وزارت وویل، چې ځانګړو ځواکونو یې په افغانستان کې لږ تر لږه ۳۹ ملکي افغانان په قصدي توګه وژلي دي.

د استرالیا یو لوړپوړي پوځي چارواکي وویل، چې د دوی څلور کلنو پلټنو ښودلې، چې ځینو سرتېرو یې په افغانستان کې په جنګي جنایتونو کې لاس درلود او دوی په دې موده کې د ۳۹ داسې موارد و په کشف بریالي شوي، چې په هغه کې استرالیایي ځواکونو ملکي افغانان او زندانیان په قصدي توګه وژلي دي.

په همدې اړه د استرالیا صدراعظم ولسمشر غني ته په یوه تلیفوني مکالمه کې ډاډ ورکړ، چې د دغو جنګي جنایتونو په اړه به لا ډېرې پلټنې کېږي او په دې اړه یې بښنه وغوښته.

د یاد خبر په خپرېدو، ګڼو نړیوالو حقوقي او بشري بنسټونو پر استرالیا نیوکې وکړې او د دوی د جنګي جنایتونو د هر اړخیزو پلټنو غوښتنه یې وکړه.

له یادو خبرونو څو ورځې وروسته، د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند په خپله ټویټرپاڼه داسې یو انځور خپور کړ چې په هغه کې یوه استرالیایي سرتېري د یوه افغان ماشوم پر غاړه په وینو ککړه چاړه نیولې ده.

د دغه انځور خپرول د کنبیرا (د استرالیا پلازمېنې) غوسه راوپاروله او له ټویټر څخه یې د انځور د حذفولو غوښتنه وکړه، خو ټویټر رد کړه.

په کنبیرا کې د چین سفیر ABC تلویزیون ته وویل، چې له افغانستان څخه د استرالیا د لومړي وزیر، سکاټ موریسون له خوا د بښنې غوښتنه، په افغانستان کې د استرالیایي ځواکونو جنګي جنایاتو په اړه تحقیقاتو ته لا توجه ډېره کړې ده.

له ۲۰۰۲ ز کال راهیسې په افغانستان کې د بهرنیانو د ظلمونو او جنایتونو کیسې له شمېره وتلي دي. دلته د وحشت ډېرې داستانونه د رسنیو تر سکرینونو او پاڼو نه دي رسېدلي او نه یې په اړه چا هم کومه پوښتنه او څېړنه کړې ده.

د بهرنیانو تر څنګ، په کور د ننه جنګي لوریو هم داسې جنایتونه تر سره کړل، چې ښایي په انساني تاریخ کې یې ساری نه وي لیدل شوی. د جنګي جرمونو داستان د روسانو د یرغل پر مهال او د دوی له وتلو وروسته، چې د کورنیو جګړو لمبې بلې وې، هم جاري وو.

په ۲۰۱۷ ز کال کې د نړیوالې جنایي محکمې مشرې څارنوالې، له قاضیانو وغوښتل، چې په افغانستان کې د جنګي جرمونو په اړه د رسمي پلټنې اجازه ورکړي. نوموړې هغه مهال وویل، چې داسې معقول دلایل شته، څو سړی ومني چې د افغانستان په وسله وال کړکېچ کې جنګي او د انسانیت خلاف جرمونه شوي دي.

د نړیوالو بنسټونو او هېوادونو دا غوښتنه، چې په افغانستان کې دې د جنګي جرمونو څېړنې او پلټنې وشي، معقوله خبره ده، خو دا چې د مجرمینو کسانو اړوند هېوادونه یې بښنې غواړي، دوی ته یو ډول برئت ورکول دي، چې په هېڅ ډول د توجېه وړ نه دي.

د سیمې او نړۍ بې طرفه او د افغانستان په تېرو دوو لسیزو جګړو او بدبختیو کې ناښکېل لوی هېوادونه باید د دغې داعیې تر شا ودرېږي، چې په افغانستان کې په رښتیا د ټولو شویو جرمونو څېړنې او پلټنې وشي او مجرمین دې یې نړیوالو محکمو ته راکش کړل شي.

دغه راز دا هم اړینه ده، چې د افغانستان دولت یوه سرتاسري څېړنه ترسره کړي او که کورنې وګړي او لوري په دې جرمونو کې ښکېل شوي وي، د اجتماعي عدالت په خاطر او په راتلونکي کې د نورو ناخوالو د تکرار مخنیوي په موخه، د محکمې مېز ته را کاږل شي.

د ظلم او ظالم کیسه هغه وخت پای مومي، چې پر وړاندې یې مقاومت وي او یوه انساني کتله یې پر خلاف ولاړه وي، عادل نظام حاکم او عادل انسان واکمن وي.

# پوهنې وزارت: له نیوکو او اعتراضونو وروسته د اسلامي تعلیماتو معینیت بېرته جوړ شو

له پراخو نیوکو او اعتراضونو وروسته، پوهنې وزارت د اسلامي تعلیماتو د معینیت د بیا جوړولو خبر ورکوي.

د یاد وزارت چارواکي وايي، د ولسي جرګې د ځینو غړو، دیني عالمانو او عامو خلکو د غوښتنو له مخې، د اسلامي تعلیماتو معینیت چې د دغه وزارت له نورو څانګو سره یوځای شوی و، بېرته ترې جلا او د جوړېدو طرحه یې ولسي جرګې ته واستول شوه.

د پوهنې وزارت ویاندې نجیبه ارین وايي، د پوهنې د سرپرست وزیرې د وړاندیز او د جمهوري ریاست د حکم له مخې، د اسلامي تعلیماتو معینیت بېرته رامنځته شو.

نوموړې زیاتوي: «د پوهنې وزارت د پېشنهاد او د جمهوري ریاست د مقام د منظورۍ پر بنسټ، د اسلامي تعلیماتو تشکیلاتي جوړښت بېرته په دغه وزارت کې رامنځته شو، د دغه معینیت د تشکیلاتو طرحه زموږ لهخوا ولسي جرګې ته وړاندې شوه.»

نوموړې زیاتوي، په دغه طرحه کې د یوې ښځې په ګډون د پنځو غړو په لرلو سره، د اسلامي تعلیماتو عالي اجرایوي شورا او د اسلامي تعلیماتو د معینیت بېرته رامنځته کېدل شامل دي.

د پوهنې وزارت، د اسلامي تعلیماتو د بېرته رامنځته کېدو دلیل، د ولسي جرګې د ځینو غړو، دیني عالمانو او عامو خلکو غوښتنه په ګوته کړې ده. دغه وزارت مخکې له دې، د پوهنې وزارت د اسلامي تعلیماتو معینیت، عمومي تعلیمات، د سواد د زده کړې او تعلیمي نصاب اداري، د ښوونې او روزنې د معینیت په نوم معینیت کې شاملې کړې چې دا پرېکړه د ولسي جرګې د غړو او ځینو خلکو له انتقادونو سره مخ شوه.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د ولسي جرګې یوشمېر غړو د یوه لیک په لاسلیک کولو سره، د پوهنې وزارت په جوړښت کې د اسلامي تعلیماتو پر ځای پاتې کېدل غوښتي وو او دغه شان یې له لومړي تر دریېم ټولګي پورې په جوماتو کې د زده کوونکو له زده کړو سره مخالفت ښودلی و.

# عودت مهاجران افغان به کشور؛ دیدگاهی دیگر

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

مهاجرت عبارت است از جابه جایی مردم از مکانی به مکانی دیگر برای کار یا زندگی میباشد، مردم معمولاً به دلیل دور شدن از شرایط یا عوامل نامساعد دورکننده ای مانند فقر، کمبود غذا، آفت های طبیعی، جنگ، بیکاری و کمبود امنیت مهاجرت می کنند، دلیل دوم برای مهاجرت می تواند شرایط و عوامل مساعد جذب کننده مانند امکانات بهداشتی بیشتر، آموزش بهتر، درآمد بیشتر و مسکن بهتر باشد. هجدهم دیسامبر(۲۸ قوس) مصادف با روز جهانی مهاجرت است. سازمان ملل متحد در سال ۲۰۰۰ میلادی به دلیل افزایش روز افزون آمار مهاجرین در جهان، این روز را بنام روز جهانی مهاجرت نام گذاری کرده است. این روز به احترام میلیون ها نفر که کشور خود را به امید یافتن زندگی بهتر ترک کرده اند، روز جهانی مهاجرت نامیده شده است. ازین روز همه ساله درکشورهای جهان تجلیل وگرامیداشت به عمل آمده کوشش می شود تا علل و پیامدهای مهاجرت ها نیز مورد بحث قرار میگیرد.

**پدیده مهاجرت در زندگی افغان ها**

هرچند پدیده مهاجرت با سرنوشت و گذشته بشر گره خورده است، اما به تناسب شرایط و موقعیت‌هاي مختلف سیاسي و اجتماعي، فرهنگي و اقتصادي و تحولاتي که زندگي بشر بخود دیده است، در شرایط کنوني وضعیت مهاجرت در دنیا ابعاد بس گسترده و پیچیده بخود گرفته است.

با وجود این، نگاه به موضوع مهاجرت در زندگي افغان‌ها حاکي از آن است که نوعي پیوستگي و ثبات در چرخه زندگي افغان‌ها با مهاجرت وجود دارد. این پیوستگي هم عوامل اقتصادي دارد، یعني قبل از شروع جنگ هاي سه دهه اخیر نیز این پدیده وجود داشته است. تعداد زیادي از شهروندان کشور براي کاریابي و تامین معیشت اقتصادي مجبور بودند که کشور را به مقصدهای مختلف ترک نمایند. وقوع سه دهه بحران اخیر در کشور روند مهاجرت و جابه جایي را شدت بخشید.

امروز حدود سه میلیون افغان، در کشورهای مختلف جهان (به خصوص ایران و پاکستان) پناهنده هستند. حدود سه میلیون نفر دیگر هم از خانه های خود رانده شده و در مکانی دیگر در داخل کشور زندگی می‌کنند. یعنی شرایط افغانستان باعث شده که حدود شش میلیون نفر، معادل حدود ۱٦ درصد از جمعیت این کشور، به نوعی در داخل یا خارج کشور پناهنده باشند.

**پیشینهٔ مهاجرت افغانها**

افغانستان از چهار دهه پیش، بعد از ورود نیروهای شوروی به خاکش و آغاز جنگی فرسایشی، جزو کشورهایی بوده که شهروندانش به صورت گسترده به کشورهای دیگر پناه برده اند. در پایان سال ۲۰۱۹ میلادی (زمستان ۱۳۹۸ هـ.ش) حدود ۲۵۱ هزار افغان در کشورهای جهان درخواست پناهندگی کرده بودند. همچنین در این سال، شمار افغان‌هایی که در سراسر جهان وضعیت پناهندگی داشته اند، دو میلیون و ۷۰۰ هزار نفر برآورد شده است. این آمار فقط مربوط به موارد جدید نیست و شامل افرادی هم می شود که در سال های قبل پناهنده شده یا درخواست پناهندگی داده اند و هنوز این وضعیت را دارند.

البته این آمار تنها شامل پناهجویانی می شود که نام خود را در دفاتر سازمان ملل متحد یا نزد مقامات کشورهای میزبان ثبت کرده اند. افرادی که بدون ثبت مشخصات خود در کشورهای مختلف زندگی می نمایند، در این آمار نیامده اند. همچنین این آمار شامل افرادی نمی شود که با ویزای کار یا دلایل دیگر از افغانستان مهاجرت کرده‌اند، یا آنکه در راه پناه بردن به مقصدی دیگر بوده اند. پناهجویان بسته به قوانین کشور میزبان، ممکن است بتوانند بعد از مدتی شهروند این کشورها شوند و از این آمار خارج شوند. البته این قوانین معمولا در کشورهای توسعه یافته وجود دارد و کشورهایی که میزبان بیشترین تعداد پناهجویان افغان هستند، مانند ایران و پاکستان، این حق را برای پناهجویان قایل نیستند. نمودار زیر وضعیت کلی پناهجویان افغان را در پایان سال ۲۰۱۹ میلادی نشان می دهد.

بعد از تجاوز اتحاد شوروی بر افغانستان (جدی ۱۳۵۸ هـ.ش)، ایران و پاکستان مقصدهای اصلی پناهجویان افغان بوده اند، اما در سال های اخیر، شمار پناهجویان در کشورهای اروپایی بیشتر شده است. نمودار فوق این روند را نشان می‌دهد. در پایان سال ۲۰۱۹ میلادی (زمستان ۱۳۹۸هـ.ش) حدود نیمی از پناهجویان و پناهندگان افغان در پاکستان بوده‌اند، ایران میزبان حدود یک سوم یا حدود ۹۵۰ هزار پناهجوی بوده و حدود ٦۰۰ هزار پناهجو هم در کشورهای دیگر جهان حضور داشته‌اند. در سال ۲۰۱۹ میلادی ۸۰ درصد پناهجویان و پناهندگان افغان در ایران و پاکستان ساکن بوده اند و سهم کشورهای دیگر ۲۰ درصد بوده است. اگر ایران و پاکستان را کنار بگذاریم، حدود ۷۰ درصد پناهجویانی که به این دو کشور همسایه پناه نبرده‌اند، به شش کشور اروپایی (از جمله ترکیه) رفته اند. درحال حاضر، آلمان میزبان ۱۸۸ هزار پناهجوی افغان است. ترکیه که معمولاً مکانی برای ثبت در خواست پناهندگی در دفاتر سازمان ملل و به همین علت، دومین پناهگاه بزرگ پناهجویان افغان بعد از آلمان است. آمار این پناهجویان در پایان سال ۲۰۱۹ میلادی ۱۱۸ هزار نفر بوده است، اتریش، یونان و سویدن میزبانان اصلی دیگر پناهجویان افغان در اروپا هستند.

**وضعیت جاری مهاجرین افغان**

با وجود شکل گیری نظام جدید وسرازیر شدن میلیاردها دالر به کشور، تاکنون زمینه بازگشت مهاجران به وطن فراهم نشده است، چون هنوز هم کشور وضع امنیتی قابل اعتمادی ندارد. در حالی که هر روز قطع نامه‌های تازه‌ای در حمایت از حقوق پناهندگان و مهاجران در جهان تصویب می شود، اما تصاویر اندوه بار وهولناك زندگی آوارگان افغانی قلب انسان را به لرزه در می‌آورد. تقریباً مردم همه کشورها در برابر درخواست های مهاجران به شمول افغان ها عکس العمل منفی نشان می دهند.

مهاجرین و پناهندگان افغانی در وضعیت کنونی حرمت و احترام شایسته يك پناهنده و يك مهاجر را ندارد، مهمترین حقوق انسانی و فردی که هم مورد تأیید شرع مقدس اسلام و هم همه نهادهایی حقوقی بین الملل است و بدون ملاحظه نژاد، مذهب و تابعیت باید در همه جا رعایت شود، عبارتند از: حق زندگی، حق تحصیل، حق حرمت انسانی، حق آزادی رفت و آمد و حق برابری با دیگران.

حق زندگی یا حیات و حق تحصیل، خواستگاه و مبنای سایر حقوق انسانی است و حق مقدسی است که خداوند آن را به همه انسان ها ارزانی داشته است. لذا پاسداری از آن نیز وظیفه حتمی همه است؛ زیرا این حق را تمام ادیان الهی و زمینی به رسمیت شناخته و حقی است که در راستای بقای نوع بشر و آبادانی جهان هستی و استمرار زندگی بشری، از نعمت‌های الهی به بندگان خداست و تمام مردم نیز با هر دین و مذهب، اصالت و وابستگی، عقب ماندگی یا پیشرفت، ارزش و موقعیت یا علم و جهل و حاکم یا محکوم، همه و همه در آن برابرند. اعلامیه جهانی حقوق بشر (دسامبر۱۹۴۹م) و کنوانسیون حقوق پناهندگان ۱۹۵۱م و پروتکل ۱۹٦۷م در ماده سوم خود نیز آن را به رسمیت شناخته و تاکید می کند که؛ «همه افراد از حق حیات، آزادی و سلامتی شخصی برخور دارند.»

کشورهای میزبان مهاجرین به خصوص ایران و پاکستان از دولت افغانستان همواره خواسته اند که نسبت به شهروندان مهاجر خود احساس مسئولیت بیشتر نماید و برای بازگشت آنها تلاش کند. با توجه به این، ضروری است تا حکومت جدید با استفاده از تجارب گذشته و داشتن اراده ملی یک برنامه جامع و عملیاتی را در زمینه عودت و ادغام مجدد روی دست بگیرد، اما متأسفانه نه این ظرفیت در حکومت های دو دههٔ اخیر افغانستان وجود داشته است و نه هم ارادهٔ حقیقی برای تطبیق آن.

**ضرورت وضع پالیسی های جدید**

حکومت های افغانستان بیشتر به مهاجرین به عنوان یک بار اضافی روی شانه های دولت نگریسته و پروسهٔ عودت دوبارهٔ آنها به کشور را فقط به عنوان یک چالش می شناسند. حال آنکه چنین نیست، و عودت با پلان و منظم مهاجرین به کشور شان، می تواند منبع خیر برای مردم و سبب پیشرفت برای مملکت گردد. درین راستا چند اصل قابل توجه می باشد:

**تغییر دیدگاه نسبت به مهاجرین**

مهاجرین افغان که طی سه و نیم دهه به کشورهای همجوار و مناطق دور دست مهاجر شده اند، دیگر آن شهروندان سادهٔ دیروزی نیستند که تنها نیازمند کمک و حمایت مادی باشند. تعدادی از آنان با استفاده از کمترین شرایط موجود در عالم مهاجرت، به متخصصین برجسته و سرمایه گذاران با تجربه تبدیل شده‌اند و تعداد زیادی از آنان دارای تحصیلات عالی اند. برخی دیگر در زمینه سرمایه‌گذاری، سرمایه گذاری و کارآفرینی تجارب سودمندی دارند. اکنون بسیاری از مهاجرین به کمکهای بشری دولت نیازی ندارند، بلکه دولت به حضور آنها بخاطر آبادانی کشور نیازمند است. بازگشت آنان تنها به حکومتداری خوب و اطمینان از ثبات و آینده سیاسی کشور بستگی دارد. به این خاطر لازم است تا حکومت افغانستان و مخالفین مسلح آن، هر طوری شده باید بساط جنگ را در کشور جمع نموده فضای صلح آمیز و استقرار سیاسی را به وجود آورند تا مهاجران دور از وطن با جرئت تام دوباره به زادگاه شان عودت نمایند.

**سازماندهی درست پروسهٔ بازگشت متخصصین**

این برنامه در چند سال گذشته توسط سازمان بین المللی مهاجرت بصورت محدود اجرا شده، اما نیازمند ساماندهی و گسترش بیشتر است. بازگشت متخصصین ورزیدهٔ افغان به کشور، از چند جهت بسیار سودمند است: اول؛ با بازگشت متخصصین، خانواده‌های بسیاری از آنها نیز بوطن باز خواهند گشت یا حد اقل به کشور شان رفت و آمد خواهند نمود. دوم، با جذب این افراد در بخشهای گوناگون دولتی و خصوصی برنامه ارتقاء ظرفیت ملی سرعت می‌یابد. سوم، بسیاری از این متخصصین برای دیگران نیز کارآفرینی خواهند کرد. وچهارم و مهمتر اینکه متخصصان افغان، مارا از نیاز به متخصصان خارجی ای بی نیاز خواهد ساخت که با امتیازات بسیار بلند شان، بخش قابل ملاحظه ای از کمک های جامعهٔ جهانی را دوباره به خارج از کشور انتقال می دهند.

**جلب و جذب سرمایه‌ها و منابع مادی مهاجرین**

بسیاری از مهاجرین ما اکنون صاحب سرمایه و تجارب سرمایه گذاری در بیرون از کشورهستند که جذب آنها برای افزایش درآمد ملی و توسعه کشور نهایت ضروری است.

ایجاد مکانیزم موثر جهت جلب سرمایه گذاری توسط مهاجران در داخل کشور و ایجاد فضای امن بخاطر مثمریت این سرمایه گذاری ها باید یکی از اولویت های حکومت افغانستان را تشکیل دهد. از طرف دیگر، سازمانهای بین المللی سالانه بودجه قابل توجهی را در رابطه به مهاجرین افغان مصرف می کنند. این کمکها بیشتر کوتاه مدت وبا نگاه بشری انجام می‌شود، در حالیکه لازم است این کمکها جنبه توسعه‌ای و زیربنایی داشته و در داخل کشور به مصرف برسند. جلب سرمایه‌های بخش خصوصی در کنار سرمایه‌های خود مهاجرین نیز در این راستا اهمیت فراوان دارد.

آگاهی دهی درست

دولت و سازمانهای بین‌المللی مسئول در بخش مهاجرت باید برنامه‌های موثر و هدفمند آگاهی دهی در میان مهاجرین را انجام دهند تا آنان از فرصتها و امکانات موجود در افغانستان آگاه شوند. و در کنار برای آنهای قصد مهاجرت به بیرون از کشور را دارند از مشکلات مهاجرین آگاهی داده شود تا فرار مغزها در کنار فرار سرمایه ها، صورت نگیرد.

اما با وصف تمام فرصت ها، امنیت و ثبات نقش اساسی را در پروسهٔ انکشاف و ترقی کشور دارد. تازمانیکه دولت امنیت را در کشور حاکم نسازد متقاعد ساختن افراد برای سرمایگذاری و باورمند ساختن خانواده ها بخاطر بازگشت به کشور زیاد عملی نخواهد بود.

# د جګړو دوام ته لمن وهل؛

## طالبان او امریکا د سرتېرو د حضور او ایستلو په اړه یو بل ته ګواښونه کوي




د سرتېرو د وتلو او جګړې د ختمولو پر سر د امریکا او طالبانو ترمنځ تازه ناندرۍ پیل شوې دي. په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر په تازه څرګندونو کې ویلي، د ټولو سرتېرو د ایستلو په اړه یې وروستۍ پرېکړه په شرایطو پورې تړلې، خو طالبان بیا بل څه غواړي. دوی د بریدونو خبرداری ورکوي. د وسله والو طالبانو ځینو نږدې سرچینو رسنیو ته ویلي چې که امریکایي ځواکونه له افغانستان نه وځي، نو دوی به بریدونه له سره پیل کړي. بلخوا ځینې افغان چارواکي بیا وایي، نړیواله ټولنه یوازې د هغو مذاکراتو او سولې ملاتړ کوي، چې د ثبات سبب شي.

وروسته تر هغې چې په امریکا کې ولسمشریزې ټاکنې جوبایډن وګټلې، نو د دوحې د هوکړې پر عملي کېدو هم اندېښنې رامنځته شوې. داسې ګنګوسې خپرې شوې چې ښایي امریکا پر خپلو ژمنو عمل ونه کړي یا جو بایډن د ټرمپ پر خلاف د سولې توافق لغوه کړي او په افغانستان کې خپل حضور ته ادامه ورکړي. د همدې اندېښنو په دوام تازه په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر ویلي چې له افغانستان څخه یې د ټولو سرتېرو ایستل په شرایطو پورې تړلي دي.

سکاټ مېلر رسنیو ته ویلي، امریکا له افغانستانه د سرتېرو کمولو ته ادامه ورکوي، خو د ټولو سرتېرو ایستل په دغه هېواد کې په وضعیت پورې اړه لري. مېلر وایي، دوی په هغه صورت کې ټول سرتېري له افغانستان وباسي، چې دلته دایمي سوله راشي، جګړې ختمې شي او افغانستان له دایمي ثبات برخمن شي. د ده په خبره: ((وروستۍ پرېکړه به د شرایطو پر اساس ترسره کېږي، امریکا به هغه وخت له افغانستان څخه په بشپړه توګه ووځي، چې په دغه هېواد کې د امن او ثبات ډاډ تر لاسه کړي)).

مېلر د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي وروستۍ ډېروالی هم د اندېښنې وړ بللی او په خبره یې، دې ډلې په دې وروستیو کې خپلې جګړې شدیدې کړې دي. د مېلر په خبره، د دې جګړو او نښتو تر ټولو ډېر قربانیان ملکي وګړي دي، نو ښه به وي چې تاوتریخوالی صفر ته راښکته کړل شي. هغه همدا راز له افغان ځواکونو هم د ملاتړ ډاډ ورکړی او ټینګار یې کړی چې د اړتیا په صورت کې امریکایي ځواکونه له افغان پوځ ملاتړ ته وردانګي. هغه وایي: ((له طالبانو سره هوکړې ته ژمن یو، دوی دې هم پر خپلو ژمنو عمل وکړي، له افغان ځواکونو پر ملاتړ هم ټینګار کوو)).

بلخوا وسله والو طالبانو بیا په تازه څرګندونو کې ویلي چې که امریکا د توافق پر بنسټ په راتلونکو میاشتو کې خپل ټول سرتېري له افغانستانه ونه باسي، نو دوی به پر بهرنیو ځواکونو خپل بریدونه له سره پیل کړي. د طالبانو دوو مهمو غړو د موضوع حساسیت ته په کتو د نامه نه ښودو په شرط ویلي، چې طالبانو او امریکا په دوحه کې هوکړه لاسلیک کړې او امریکا ته په کار ده چې پر دې هوکړه عمل وکړي. د دوی په خبره، جو بایډن دې هم د ټرمپ تګلاره خپله کړي، د دوحې هوکړې ته دې ژمن پاتې شي او سرتېري دې له افغانستانه وباسي.

بلخوا ځینو سیاسي او نظامي شنونکو بهرنیو رسنیو ته ویلي چې ښایي بایډن هم له افغانستانه د سرتېرو ایستلو ته ادامه ورکړي، خو په بشپړه توګه د سرتېرو د ایستلو پلوی نه دی او وضعیت به ارزوي. د دوی په خبره، بایډن به هېڅ وخت د دې اجازه ور نه کړي چې شرایطو ته له پاملرنې پرته د خپلو سرتېرو د ایستلو پرېکړه وکړي.


له دې سره هممهاله د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر ویلي، نړیواله ټولنه یوازې په هغه صورت کې د سولې له بهیر او همدا راز له بین الافغاني مذاکراتو ملاتړ کوي چې دغه مذاکرات او بهیر په افغانستان کې د تېرو کلونو لاس ته راوړنې وساتي او دلته د دایمي ثبات د راتګ سبب شي. سره له دې چې په دې وروستیو کې جګړې شدیدې شوې دي، خو له دې څرګندونو سره د جګړې د لا شدت وېره هم شته ده.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېیمه برخه
### د زیمنې برابرول




سېنها: ایا په هغه کې د پاکستان رول و؟
دولت: کوم تحول چې په ۱۹۸۹-۱۹۹۰ کلونو کې په کشمیر کې رامنځته شو، د پاکستان تر اغېز، ملاتړ او څارنې لاندې و. په زړه پورې دا چې لکه څرنګه چې جنرال صېب هم یادونه وکړه او کشمیریانو هم موږ ته ویلي وو، دا تحول د پاکستان تر توقع او هغو هلو ځلو پورته و چې په دې برخه کې یې کولې. ځینې شیان له کنټروله ووتل. همدا لامل دی کله چې په پایله کې – همدارنګه د سپټمبر تر پېښې وروسته - لېوالتیا سړه شوه، پاکستان یو ځل بیا د کشمیر د حساسیت د نه درک کولو له امله پړ وبلل شو.
دورانی: زه د کشمیر په اړه بحث کې خپل ملګري ته تسلیم یم ځکه چې د هغه پوهه او تجربه تر ما زیاته ده.
دولت: ستاسو مهرباني ده ښاغلیه.
دورانی: هغه د ځمکنیو حقایقو او هلته د مېشتو خلکو په اړه پوهېږي، نوموړي هلته دنده اجرا کړې او څه وخت هلته پاتې شوی. زه حتی له پولې هم نه یم اوښتی. خو په اصطلاح ازاد کشمیر کې مې څو کاله دنده ترسره کړې ده.
سېنها: که هند اعتراف وکړي چې کشمیر اساسي موضوع ده، دا به په دوه اړخیزه اړیکو کې یو پرمختګ نه وي؟
دولت: زه نه پوهېږم. دا د پاکستان په غبرګون پورې اړه لري.
دوراني: ما په زیاتره مواردو کې اورېدلي دي چې هندیانو کشمیر د اساسي موضوع په توګه یاد کړی دی. لومړی کس سلمان حیدر و، د ګډ ډیالوګ همکار لیکوال. د ګډ ډیالوګ په لومړنیو کې د اساسي موضوع پر اړتیا خبرې ونه شوې، بلکې یوازې د سولې د پروسې په توګه مطرح وه. د ډیالوګ لومړنی تمرکز د یوه ښه چاپېریال رامنځته کول و. تر دې وروسته ټاکل شوې وه چې لومړی پر لانجمنو موضوعاتو خبرې وشي: کشمیر. او بیا وروسته پر ترورېزم. په هند کې ځینې کسان ښایي ادعا وکړي چې کشمیر بې له دې چې «اساسي موضوع» وګڼل شي، یوه لویه ستونزه ده. په ورته وخت کې هغوی زیاتوي چې پاکستان په دې باور دی چې اساسي موضوع باید حتماً په لومړي سر کې تر بحث لاندې ونیول شي. ګډ ډیالوګ زما لپاره د سولې په برخه کې د زده کړې یوه ښه تجربه وه. یو کس ښایي په دې اړه له وړاندې پوه وي چې جګړه څه ډول وکړي. ما زده کړل چې ایا د سولې لپاره د پوځي ستراتېژۍ تجربې د پلې کېدو وړ دي. ډېری کسان له دې سره موافق دي، په شمول د سلمان حیدر. ما وویل: «تاسو او شمشاد (زموږ د بهرنیو چارو مرستیال وزیر) مطلقاً زموږ د عملیاتي ستراتېژۍ په ژورتوب رسېدلي یاست.» عملیاتي ستراتېژي دوه برخې لري: لومړۍ جګړه او دویمه یې مانور دی. کله چې جګړه یا مبارزه کوې، د مانور لپاره باید یو سم چاپېریال رامنځته کړې. دا کار باید په داسې ښه ترسره شي چې د جګړې لپاره د خوښې وړ چاپېریال اماده شي. دا جګړې او مانور یو سایکل دی. ما وویل: داسې ښکاري لکه دا کار دې چې کړی وي. دغه ګډ ډیالوګ مانور و او اساساً یې د جګړې لپاره د خوښې وړ یو ماحول رامنځته کاوه چې د کشمیر حل پکې نغښتی و. دا د کشمیر لپاره د ملکي حل یا سوله ییز حل یوه نسخه وه. ما ولیدل چې ممکن یاد مفهوم مناسب وي. ما هغوی وستایل چې د سولې د خبرو اته پړاوونه یې پر مخ یووړل. د پوځي ستراتېژۍ له مخې زور او تاوتریخوالي ته لاس اچول کېږي او ننداره کېږي چې کوم لوری پرمختګ کوي. هغه څه چې تاسو ته د اصلي جګړې لپاره چاپېریال رامنځته کوي، نه هغه ځای چې ممکن تاسو د دښمن د مقاومت له کبله پرمختګ نه دی کړی. سلمان وویل، هو، موږ چې هر کله د ګډ ډیالوګ د پراختیا لپاره هڅې کړې، یو شمېر کسانو د «پراخېدونکي جریان» په اړه د لیډل هارټ (Liddell-Hart) د ستراتېژۍ یادونه کړې. تاسو لږ حرکت یا جریان پیل کړئ، نور خپله ورسره یو ځای کېږي او هر څه پراختیا مومي. د حل وړ مسایلو په برخه کې، مګر دا چې له کرښې اوښتی اوسې چې اساس ته نه شي رسېدلی. ما د هېواد د ننه دا خبره وکړه چې اساسي موضوعاتو ته د رسېدو لپاره لومړی باید پر دویمه درجه یا ثانوي موضوعاتو باندې بحث وشي.
سېنها: ښاغلی دولت! تاسو یې منئ؟
دولت: دا د ستونزو د حل په تړاو یوه ستونزمنه لاره ده. د کشمیر موضوع نېغې او مستقیمې معاملې ته اړتیا لري. یو شمېر حکومتي چارواکي شته چې تر اوسه یې سرینګر نه دی لیدلی، خو کشمیر ته یې پېښې بندې کړې. زموږ په باور ۲۰۰۱ او ۲۰۰۸ کلونه د کشمیر لپاره ښه موده وه، ځکه چې پاکستان په دې وخت کې د ممبیې په بریدونو کې د تورنېدو له امله ونه شوای کولای چې د کشمیر موضوع راپورته کړي. د ممبیې بریدونو پاکستان په دویم پړاو خبرو کې لا زیات خجالت او شرمنده کړ. ځینو پاکستانیانو ویل: «حتی که اوس هم عبرت وانخلو، د مجازاتو لایق یو.» ما یو ځل په څو غونډو او ناستو کې ځینو پاکستاني ډیپلوماتانو ته د کنایې په توګه وویل چې «اساسي موضوع» مو څه شوه یار؟ راځئ چې د کشمیر په اړه خبرې وکړو. پاکستان نه غوښتل چې د کشمیر موضوع دې د خبرو په اجنډا کې وي. اوس نو هر څه لاړل او وخت مو ضایع کړ.
**دوام لري...**

# ماریو پدرو

شفیق امیرزی



ماریو پدرو بارګاس یوسا د ۱۹۳٦ز کال د مارچ په ۲۸مه زېږېدلی دی. هغه کیسه لیکوال، مقاله لیکوال، سیاستوال او د پیرو هېواد وتلی خبریال دی. د جنوبي امریکا یو له تر ټولو وتلي، تکړه او مشهور کیسه لیکوال دی. همدا راز د خپلو همځولو ترمنځ معتبر لیکوال هم بلل کېږي. دی اوسمهال په پرنیستون پوهنتون کې استاد دی. ښکلې کیسې یې لیکلې دي، روان نثر لري، په امریکا کې مینه وال لري او همدې متفاوتو لیکنو او کیسو ته په پام د نوبل بنسټ په ۲۰۱۰ز کال کې هغه د نوبل جایزې ګټونکی وباله.
ماریو بارګاس یوسا په ۱۹۳٦ز کال کې د پیرو په ارکیپای کې زېږېدلی دی. دی یې د مور او پلار یوازینی اولاد دی. مور او پلار یې تر واده پنځه میاشتې وروسته سره بېل شول او دی یې له خپلې مور سره پوره لس کاله په بولیوي کې و. وروسته تر هغه یې چې نیکه په پیرو کې یوه ښه دنده پیدا کړه، نو دی او مور یې هم خپل لومړني ټاټوبي یانې پیرو ته راغلل. دا ۱۹٤٦ز کال و، هغه یې له مور سره و، خو د ده له خولې چې ماشومتوب یې له ډېرو ناهیلیو او دردونو ډک و. دی څوارلس کلن و چې پلار یې ورته راغی او د هغه وخت د نظام ښوونځي ته یې واستاوه. دې چارې یې پر ذهن ډېر اغېز وکړ او همدلته یې د لومړني ناول خاکه په ذهن کې رامنځ ته شوه. ژوند ته له ډارونې زاویې کتل یې په همدې ښوونځي کې د دوه کلنې تجربې او زده کړې پایله وه. بارګاس یوسا د لیما له پوهنتون د ازادو هنرونو له برخې فارغ شو. بیا مادرید پوهنتون ته لاړ او په ادبیاتو کې یې خپله دوکتورا واخیسته. یوسا په ۱۹۵۹ز کال کې فرانسې ته لاړ او هلته د فرانسې په خبري اژانس کې د خبریال همدا راز په پاریس کې د ښوونکي او د فرانسې په ملي تلویزیون کې د کارکوونکي په حیث وګومارل شو. ده اوږده کلونه په اروپا په ځانګړې توګه په پاریس، مادرید او لندن کې ژوند کړی دی. دلته یې ډول ډول کارونه کړي دي، ژباړن و، خبریال و، لیکوال و او د ژبې د استاد په توګه یې هم دنده ترسره کړې ده.
هغه ۱۹ کلن و چې له خولیا اورکېدي سره یې واده وکړ. هغه یې خپلوانه وه او تر ده پوره اتلس کاله مشره وه. په خپل یوه مشهور ناول (عمه خولیا او میرزا) کې یې د دې ښځې له شخصیت ډېر څه راوړي او داسې ویل کېږي چې د نوموړې له شخصیت په الهام دا ناول لیکل شوی دی. دې واده ډېر دوام و نه کړ او په ۱۹٤٦ز کال کې له یو بل بېل شول. یو کال وروسته یې له پاټریسیا سره واده وکړ، چې لا تر دې دمه ورسره ژوند کوي او درې اولادونه لري.
ماریو بارګاس شل کلن و چې خپله لومړنۍ کیسه یې خپره کړه. د سر دستو په نومه یوه لنډه کیسه وه چې د پلازمینې په نامه د یوې نشریې ټولنې له لوري خپره شوه. هغه اوږده لاره په مخ کې لرله او ښایي په خپله یې هم دا فکر نه و کړی چې یوه ورځ به یې نوم د امریکا په درېیو غوره لیکوالانو کې راځي. خو اوس کیسه بل ډول ده د لاتینې امریکا ادبیات نن سبا د ګابرېل ګارسیا مارکز، فوینتس او یوسا احسانمن دي او دوی کارونو ته د خورا ډېرو مهمو ادبي لاس ته راوړنو په سترګه ګوري.
هغه مهال ۱۹۵۸ز کال و چې یوسا ته په مادرېد پوهنتون کې د زده کړو چانس برابر شو. یو کال وروسته یې د لنډو کیسو ټولګه په بارسلون کې چاپ شوه. دی هم د لاتینې امریکا د ډېرو نورو لیکوالانو په څېر په پاریس کې دېره شو، چې هلته له ګڼ شمېر هسپانوي او فرانسوي ژبو لیکوالانو سره بلد شو. په ۱۹٦۳ز کال کې یې خپل لومړنی ناول خپور کړ. دا ناول په چټکۍ د لوستونکو او نقادانو له تاوده هرکلي سره مخ شو. همدا کافي وه چې دی د یوه رادیکال لیکوال په توګه راڅرګند شي، نقدونه ورباندې ډېر شي او مخالفین یې لسګونه ټوکه کتابونه د اور لمبو ته وغورځوي. خو له مخالفتونو سره سره د یوسا د لوستونکو بازار تود و. په ۱۹٦٦ز کال کې یې دویم ناول (شین کور) هم چاپ شو او ددې ناول تر چاپ وروسته له پاریس لندن ته لاړ. هلته یې د هسپانوي-امریکایي ادبیاتو په تدریس پیل وکړ. یو کال وروسته یې دوه نورې داستاني ټولګې هم خپرې شوې چې دی یې د دوو نورو جایزو ګټونکی هم کړ.
د هسپانوي ناقدانو د جایزې اخیستو لپاره کاراکاس ته لاړ. هلته یې د پیرو د لیکوال د مسوولیتونو په اړه یوه وینا هم وکړه. دلته یې له ګابریل ګارسیا مارکز سره هم چې د ادبیاتو په برخه کې وتلی نوم او د نوبل ګټونکی و. درېیم ناول یې په (په کاتدرال کې خبرې اترې) په ۱۹٦۹ز کال کې خپور کړ. یو کال وروسته بارسلونا ته لاړ، هلته یې د مارکز پر اثر تر ټولو مشهور نقد ولیکلو. دا کتاب یې بیا په ۱۹۷۱ز کال کې خپور کړ.
یوسا د آخري وخت جګړه اثر تر خپرولو وروسته څو نور اثار هم خپاره کړي دي. له دې ډلې سوربز او ځوان لیکوال ته لیکونه یې ځانګړې ارزښت لري. له دې سره سره بیا هم تر دې دمه (په کاتدرال کې خبرې اترې) او (د اخري وخت جګړه) تر ټولو مشهور او مهم اثار ګڼل کېږي. یوسا خپل وتلی اثر (د اتل وخت) اثر په شل کلنۍ کې خپور کړی دی. دا اثر هغه وخت منتقدان او لیکوالان په دې باور کړ چې لیکوال په خپل ذهن کې د لیکوالۍ لپاره ځانګړی استعداد لري. همدې اثر نړیوال شهرت یوسا ته ور وبانښه. د ده مینه وال ډېر شول، د اثر لوستونکي یې ډېر شول او مینه وال یې ورځ تر بلې ډېرېدل. ناقدانو یې پر اثر نقدونه وکړل او هغه یې وستایه. هغه یوازې ناولونه نه، بلکې شعرونه یې هم لیکلي دي، د فلمونو لپاره یې کیسې لیکلې او ننداري یې هم د خپلې لیکوالۍ په لومړیو کلونو کې لیکلې دي. دغه لیکوال ګڼ اثار لري چې ځینو ته مو یې مخکې اشاره وکړه، چې اثار یې لسګونه ژبو ته ژباړل شوي دي. فرانسوي، ایټالیو، انګلیسي، الماني، روسي، فنلانډي، ترکي، جاپاني، چیني، جکي، عربي، فارسي او نورې هغه ژبې دي چې ددې لیکوالا اثار ورته ژباړل شوي دي.
یوسا او د لاتینې امریکا وتلی لیکوال ګابریل ګارسیا مارکز نږدې ملګري وو. دوی دواړه د نوبل ګټونکي دي او مارکز له یوسا سره ډېرې نږدې اړیکې پاللې خو په ۲۰۰۳ز کال کې چې کله د بوګوتا د کتابونو ننداړتون جوړ شوی و، یوسا په خپلو خبرو کې پر مارکز سختې نیوکې وکړې. دده وویل چې ګابرېل د کیوبا حکومت په تېر فیډل کاسټرو ته تر حده ډېره چاپلوسي کوي. نوموړي د خپلو دې خبرو لامل له فیډل کاسټرو سره د مارکز نږدې اړیکې یادې کړې. هغه ورځ یوسا په تالار کې د مارکز د مینه والو له توند غبرګون سره مخ شو او ډېرو یې تالار پرېښود او ووتل.
مخکې مو هم یادونه وکړه چې یوسا د خپل لومړني ناول خاکه د نظامي ښوونځي د لوست پر مهال په ذهن کې جوړه کړه. دا مهال یې حاکم وضعیت پر ذهن سخت منفي اغېز وکړ، له همدې امله یې (سپي ډوله ژوند) کتاب خپور کړ. په دې کتاب کې یې د ژوند سختې تجربې را اخیستې دي. ټولې هغه سختۍ یې یادې کړې چې په ژوند کې ورسره مخ شوی دی. سره له چې د مارکز په موجودیت کې د نړۍ پام د لاتینې ادبیاتو لور ته و او ټولو دا فکر کاوه چې یوسا به هم له دې بهیر اغېزمن وي او د مارکز په څېر به جادویي ریالیزم وکاروي، خو داسې نه وه، یوسا د جادویي ریالیزم ملاتړی او کاروونکی نه و. ده هم په ناولونو کې له تخیل کار اخیست خو په خبره یې دی تخیل له جادویي پېښو او عکس العملونو سره نه ګډوي او په خبره یې دده تخیل ریښتینی دی. دی د خپلو کیسو د لیکلو لپاره ریښتیني شخصیتونه کاروي، داسې ښکاري لکه د کرکټر وضعیت چې د لیکوال له روان سره تړلی وي، له مدرکې او تفصیلي دقت کار اخلي نو له همدې امله ویلی شو چې واقعیت له خلاقیت سره ګډوي، تېر یادونه له نوي سبک سره په ګډولو له سره جوړوي، په ډېر عجیبه خلاقیت وخت کاروي، خاطرې ناندریو او فساد ته رابولي، جنجالونه جوړوي، ټکرونه رامنځ ته کوي او دی په خپله وایي لیکل شوخي او ناندرۍ دي خو لیکوال بیا جادوګر دی چې هر څه سموي.
یوسا په دې باور دی چې لیکوالي هم د تحقیق په څېر یوه منظمه پروسه ده چې ناخوداګاه یې روایت راوړو، نو له همدې امله د تحقیق توصیفي سبک روایي سبک ته هم اړ کېږي. نو همدا لامل دی چې نقادان وایي یوسا، تاریخي، داستاني، سیاسي او فکري مسایل په یوه اندازه په خپلو کیسیو کې راوړي. دده په اثارو کې تاریخ او تخیل د یو بل تر څنګ دي. کله کله دا دواړه دومره په مهارت سره ګډ کړي چې تر منځ یې شته پوله هم له منځه ولاړه شي، هلته بیا لوستونکی حیران شي چې کومه برخه تاریخ دی او کومه تخیلي کیسه. په لنډه کې ویلی شو چې یوسا د اوس زماني لیکوال دی، داسې لیکوال چې بهرنی حقیقت او واقعیت را اخلي، له خپل تخیل سره یې یو ځای کوي، تاریخ را اخلي، فلسفه را اخلي، فکري مسایل را اخلي او د خپل تخیل په مرسته یې تر لوستونکي رسوي. هغه په فکري لحاظ ددې ملاتړی دی چې انسانان په خپلو کې ښه ژوند ولري، د ژوند په مانا پوه شي، تاوتریخوالی او دښمني چې دده په خبره د انسان په ژوند کې د بربادۍ تر ټولو ستر لامل دی له خپلو منځونو لرې کړي.
بارګاس یوسا د خپل ادبي ژوند پر مهال ګڼې جایزې ګټلې دي. خو تر ټولو مهمه هغه یې په ۲۰۱۰ز کال کې د نوبل جایزه وه. یوسا د ۲۰۱۰ز کال د اکټوبر په اوومه نېټه ددې جایزې ګټونکی شو. دا له ۱۹۸۲ز کال وروسته د لاتینې امریکا لومړنی لیکوال و چې د نوبل جایزه یې وګټله. په ۱۹۸۲ز کال کې تر هغه مخکې ګارسیا مارکز د نوبل جایزه ګټلې وه. د نوبل بنسټ هغه مهال په خپلو څرګندونو کې ویلي وو، ځکه یې یوسا د نوبل ګټونکی اعلان کړی دی چې د قدرت د مجسمې په جوړولو کې پوره ماهر دی، مقاومت، ناندرو او فردي ماتې ته یې ځانګړې پاملرنه کړې ده. یوسا په ۱۹۹٤ز کال کې د اسپانیا د اکاډمۍ د غړي په توګه ومنل شو او په وروستیو کلونو کې یې د امریکا، جنوبي امریکا او اروپا په ګڼو بوهنتونو کې ادبیات تدریس کړي دي. دې لیکوال وکړی شول چې په ۱۹۹۵ز کال کې د سروانتس مهمه ادبي جایزه هم خپله کړي. همدا راز په ۱۹۹٦ز کال کې یې د المان د سولې جایزه هم ګټلې ده. هغه تر دې دمه دېرش ناولونه او ننداري لیکلي دي، چې د نړۍ ګڼو ژبو ته ژباړل شوي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې زرګونه لوستونکي لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۲،٤ |
| Rp. | ٤۸۰ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۱ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانۍ

# تاسې د څه په اړه تصور کوئ؟

ژباړه: امان الله حنیفي

ډېری کسان د خپلو تېرو شوو محدودیتونو او ماتو په اړه تصور کوي او هغه د ځان لپاره په وار وار تکراروي. نوښتګره تصویرجوړونه تاسې پر دې برلاسې کوي، څو د ژوند په اړه یو داسې لرلید ولری چې هغه ستاسې په ذهن کې تعریف شوی وي او ټول ژوند مو راتلونکي ته متمایل کړي، هغه راتلونکی چې هېڅ محدودیت نه لري.

دلته مو په لنډ ډول د تصویر جوړونې ډول ته اشاره کړې ده او پر هغه پسې جوخت مو هغه درې ګامونه تاسې ته معرفي کړي، چې له هغه په استفادې سره کولای شی د خپل ځان او ژوند په اړه ښه تصویر ولری.

له هغه وروسته مو چې د خپل ځان لپاره مثبتې جملې او مثبت باورونه تکرار کړل، په خپله خونه کې پر اېښې کټ کېناستم، سترګې مې بندې کړې او څو ځله مې ژوره ساه واخیسته. پنځه دقیقې مې د خپل ایډیال ژوند په اړه تصور وکړ، په داسې ډول چې ټول کارونه مې په راحتۍ، پر ځان د پوره باور او مینې له مخې سر ته رسول.

د بېلګې په ډول، د دغه مقالې د لیکلو پر مهال مې داسې تصور کړی و، چې زه یې د لیکلو پر مهال ډېر ارام یم، له خپله کاره خوند اخلم او له خپلو ټولو سټریسونو او وېرو لرې یم. همداسې مې د دغه مقالې پایله هم همداسې تصور کړې وه چې تر لیکلو او خپرولو وروسته به یې ډېر خلک ولولي، له هغه سره به مینه ښیي او خپلو نږدې ملګرو ته به د هغه د لوستو سپارښتنه کوي. له وېرې او سټریس لرې دې تصویر جوړونې بالاخره زه دې ته چمتو کړم چې پرته له کومې ستونزې د دغه مقالې پر لیکلو شروع وکړم.

**د تصویر جوړونې لپاره درې ساده ګامونه**

دا چې تاسې خپل باورونه لوستي، همدا ستاسې د لا ښه څرګندېدو لپاره تر ټولو ښه وخت دی، چې د هغه پر اساس کولای شی خپل ژوند برابر کړی.

**لومړی ګام: اماده اوسئ**

ډېری کسان دا خوښوي چې د تصویر جوړونې پر مهال د خپلې خوښې موسیقي له اورېدو هم خوند واخلي. د بېلګې په ډول، کلاسیکه موسیقي هغه چا ته د تصویر جوړونې پر مهال ښه بګراونډ برابروي، چې هغوی کلاسیکه موسیقي اوري یا یې خوښېږي. که تاسې هم غواړی چې د تصویر جوړونې پر مهال د خپلې خوښې موسیقي واوری، ښه ده چې اواز یې ډېر ټیټ کړئ.

اوس په ښه ډول کېنئ، داسې چې ټول بدن مو راحت وي. کولای شی د راحت کېناستلو لپاره د خوب خونې پر غولي او یا هم پر څوکۍ او که تاسې د تصویر جوړونې پر مهال په قدم وهلو کې راحت یاستی، کولای شی قدم ووهئ. ژوره ساه واخلئ، سترګې مو یوڅو دقیقې بندې کړئ، ذهن مو ارام کړئ او په هر لحاظ ځان د تصویر جوړونې لپاره اماده کړئ.

**دویم ګام: هغه څه چې غواړی، تصور یې کړئ**

ډېری کسان د بریا په تصور کولو سره د ناراحتۍ احساس کوي او حتی له بریا وېرېږي. ممکن یوڅه کسان بیا په دې برخه کې یوڅه مقاومت وکړي، ځینې نور چې بیا د ټولنې ۹۵ سلنه تشکیلوي، له دې امله د ګناه احساس کوي.

د ماریانا ویلیا مسون دغه مشهوره سپارښتنه کېدای شي له هغو کسانو سره یوڅه مرسته وکړي، چې د تصویر جوړونې پر مهال له ذهني او عاطفي ستونزو سره مخ کېږي: «زموږ لویه وېره له نابودوالي نه ده، بلکې زموږ لویه وېره له دې ده چې موږ له اندازې زیات پیاوړي یاستو. دا زموږ دروني غږ دی چې موږ وېروي. موږ له ځانه پوښتو: زه څوک یم چې د هوښیارۍ دعوې کوم؟ زه څوک یم چې غواړم جذاب، بااستعداده او باانګېزه و اوسم؟ تاسې باید دا ووایئ: ولې نه شی کولای چې دا ټولې ځانګړنې خپلې کړم؟ تاسې د پاک خدای بنده یاستی، دا چې تاسې خپله خپل ځان ته په کوچنیوالي قایل یاستی، دا به ستاسې په ګډون له هېچا سره مرسته ونه کړي. په دې کې هېڅ مثبته انګېزه نشته چې تاسې خپل ځان کم یا نابود تصور کړی، څو مو شاوخوا خلک د وېرې او ناامنۍ احساس ونه کړي.

موږ ټول د ښه ځلېدو لپاره پیدا شوي یاستو، موږ دې دنیا ته د دې لپاره رالېږل شوي یو، څو له هغو وړتیاوو ګټه واخلو چې خدای پاک موږ ته راکړې دي او هغه مسوولیت ادا کړو چې موږ یې د سرته رسولو لپاره پیدا شوي یو. دا فکر مه کوئ چې خدای پاک یوازې ځینو کسانو ته دا وړتیا ورکړې ده، بلکې موږ ټولو ته یې دا توانایي راکړې ده. کله چې موږ خپل ځان ته د ښه ځلېدو اجازه ورکړو، هغه ده چې خپل شاوخوا کسانو ته هم دا فرصت برابروو چې هغوی هم په ښه ډول راڅرګند شي. کله چې موږ خپل ځان له دروني وېرو خلاص کړو، هغه ده چې موږ خپله شاوخوا هم په مستقیم ډول له هغه خلاصوو.»

تر ټولو ښه ډالۍ چې خپلو نږدې ملګرو ته یې ورکولای شم دا ده چې موږ ټول کولای شو له خپلو وړتیاوو ښه استفاده وکړو. تاسې څه وایئ؟ تاسې په رښتیا څه غواړی؟ د محدودیتونو منطق مو نور هېر کړئ. که وشی کولای هغه څه ولری چې تاسې یې غواړی، هر کار چې غواړی سرته یې ورسوی او پر خپل ایډیال کس بدل شی، څه څه به غواړی؟ کوم کارونه به سر ته رسوی؟ کوم کس جوړېدل به غواړی؟

لوی هدفونه، لویې غوښتنې چې هغه ته په رسېدو مو ژوند بدلېږي، تصور کړئ. د دغه تجسم یا تصور کوچنې جزیات هم مشاهده کړئ، احساس یې کړئ، وا یې وریئ، لمس یې کړئ، وې څکئ او بوی یې کړئ. د دغه کار د ښه تر سره کولو لپاره له ټولو حواسو په ښه ډول استفاده وکړئ. هرڅومره چې ستاسې لرلید واضح وي، هغومره باوري کېږي څو د هغه پر واقعیت بدلولو لپاره لازم کارونه وکړئ. تاسې کولای شی یا خپله نږدې او یا هم خپله لرې راتلونکې په ذهن کې تصور کړئ. کټ مټ زما په څېر، ما چې کله دا مقاله او دېته ورته یو کتاب لیکلو، داسې فکر مې کاوه چې تر لیکلو او چاپ وروسته به یې ډېر خلک لولي، له هغه سره به مینه ښیي او خپلو نږدې دوستانو او ملګرو ته به د هغه د ویلو سپارښتنه کوي.

دا هغه وخت و څو هغه څه ته ځان ورسوی چې د زړه په مینه یې غواړی. ښه ده چې مخکې له مخکې هغه تصور کړئ، د هغه د لرلو احساس وکړئ او هرڅه یوځل په ذهن کې تجربه کړئ.

**درېیم ګام:** هغه شخص چې تاسې باید شی او هغه کارونه چې تاسې یې باید وکړی، تصور کړئ

کله مو چې د هغه څه په اړه چې تاسې یې غواړی، په خپل ذهن کې یو شفاف تصویر و ایست، وروسته خپل ژوند پر هغه مسیر برابر تصور کړئ چې تاسې ورته رسېدل غواړی. خپل ځان مو د هغو فعالیتونو په ښه تر سره کولو کې تصور کړئ، چې تاسې یې هره ورځ سر ته رسوی؛ تمرین کول، مطالعه کول، کار کول، لیکل، اړیکې پالل، ایمیل لېږل او یا هم دې ته ورته نور کارونه. باوري اوسئ چې د یوې داسې صحنې له تصور کولو خوند اخلی.

خپل ځان داسې تصور کړئ چې د منډې وهلو او شخصي نظم له امله چې تاسې رامنځ ته کړی، تاسې یو ډول د غرور احساس کوی. ځان مو داسې تصور کړئ چې تاسې په ښه ډول خپلې کاري اړیکې تنظیموی. د خپل کار راپورونه مو چمتو کړي دي او یا مو هم هغه پروژه سر ته رسولې چې له ډېره وخته مو تعقیبوله. داسې تصور وکړئ چې همکاران، کورنۍ، مشتریان، ملګري او د ګډ ژوند ملګری مو ستاسې د مثبت چلند په اړه یو عکس العمل ښکاره کوي.

# د کرونا دویمه او وژونکې څپه؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر تر یو میلیون ٦۲۰ زرو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۷۲ میلیونه او ۷۵۷ زره او ۲٤۲ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او٦۲۰ زره او ۹۷۱کسان مړه شوي او نږدې ۵۱ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱٦ میلیونه او ۷۳۷ زره او ۸۰٤ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۳۰٦ زره او ٤۵۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۸۸۵ زره او ٤٤۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۹۰۱ زره او ۹۹۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د دوه میلیونه او ٦۸۱ زره او ۲۵٦ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۳۷٦ زره او ۸۵۲ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز برېټانیا، ایټالیا، ترکیه، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا د کرونا ویروس د دویمې څپې له خپرېدو سره هممهاله د اروپا په ګډون د نړۍ په نورو برخو کې یوځل بیا محدودیتونه زیات شوي دي. د جرمني چارواکو ویلي، د کرونا ویروس د مثبتو پېښو له زیاتېدو سره سم، له را روانې چهارشنبې تازه محدودیتونه او تولبندیز لګول کېږي.

د چارواکو په خبره، له دوکانونو پرته به نور سوداګریز ځایونه له را روانې چهارشنبې د جنورۍ میاشتې تر ۱۰مې نېټې تړلي وي. د جرمني لومړۍ وزیرې انګېلا مېرکل له خلکو د احتیاط غوښتنه کړې او زیاته کړې یې ده: «له ټولو خلکو غواړم، که د نورو کورونو کسان خپل کور ته د کرسمېس لپاره درغواړی، هیله ده وروسته د خوندیتوب د اونۍ په توګه تر ممکنه حده د اوو ورځو لپاره له نورو کسانو سره تماس کم کړئ.»

د تولبندیز او محدودیتونو پر مهال به په ښوونځیو او د ورځنیو څارنو په نورو مرکزونو کې د خلکو ترمنځ جسمي فاصله هم مراعاتېږي. په ورته مهال، پر برېټانیا، امریکا او روسیې سربېره په ځینو کې هېوادونو کې د کرونا ویروس ضد واکسین د تطبیق لړۍ هم پیل شوې او روغتیايي مسوولین وايي چې دغو ویروسونو تر ډېره مثبته پایله لرلې ده.

# اتمر: نړیوال په افغانستان کې په مشروط ډول سوله غواړي

د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر وایي، نړۍ په افغانستان کې سوله غواړي، خو خپل شرایط لري. نوموړی وایي، نړۍ له طالبانو غواړي چې تاوتریخوالی کم او اوربند ته لاره هواره کړي او د افغانستان له هغې سولې ملاتړ کوي، چې د افغانانو اراده پکې موجوده وي.

نوموړي تېره ورځ ولسي جرګې ته د جنیوا کنفرانس په اړه په خپلو خبرو کې وویل، نږدې ۹۰ هېوادونو او سازمانونو چې په دغه کنفرانس کې یې ګډون درلود، خپلې مرستې د افغانستان په سولې پورې تړلي او ویلي یې دي چې له داسې افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي، چې ولسواکي پکې حاکمه وي او د بشر حقونه، د بیان ازادي او د ښځو حقونه پکې وپالل شي.

اتمر زیاته کړه: «دنیا به له هغې سولې څخه ملاتړ وکړي، چې نتیجه یې د افغانستان د خلکو په ازادې ارادې باندې ولاړه وي، اینده د افغانستان څوک تعیینوي، هغه مذاکره چې د افغانستان د ملت ازاده اراده ده، دنیا غږ وکړ چې د افغانستان د خلکو ازاده اراده به د سولې نتیجه تعیینوي، نور قوتونه به د دې حق ونه لري چې نتیجه تعیینه کړي.»

نوموړي دغه راز وویل چې د جنیوا په کنفرانس کې د ګډون کوونکو هېوادونو استازو ورته ویلي چې د سولې په اړه پرېکړه د افغانانو په لاس کې ده، خو له هرې پرېکړې نړیوال ملاتړ نه کوي، نو ځکه په خبره یې، مهمه ده چې یوازې د سولې په پروسې نه، بلکې په هغې نتیجې چې ترې راوځي، هم خبرې وشي.

د یادونې ده چې د افغانستان لپاره د جنیوا دوه ورځنی کنفرانس د روانې لمریزې میاشتې په درېیمه جوړ شو چې موخه یې له افغانستان سره د راتلونکو څلورو کلونو لپاره د نړۍ د مرستو راټولول وو او نړۍ له دغه هېواد سره له ۱۳،۲ میلیاردو ډالرو مرستې ژمنه وکړه، خو په دغه کنفرانس کې د مالي مرستو ترڅنګ د افغانستان د سولې او راتلونکې په اړه هم پراخې خبرې او بحثونه وشول.

ولسي جرګې تېره ورځ د دغه کنفرانس په اړه د افغانستان د بهرنیو چارو او مالیې وزیران د معلوماتو ورکولو لپاره خپلې عمومي غونډې ته ور غوښتي وو.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۵مه | ٦٤٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ٨ | ١٤ | ٣ | ١٢ | ٨ |
| -٧ | -٤ | ٢ | -١ | ١ | ١ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۳ | لمر ختل ۰٦:۵۲ | ماسپښين ۱۱:٤۹ | مازيګر ۰۲:۲۷ | ماښام ۰٤:٤۵ | ماخوستن ۰٦:۱۵

## نړۍ



د کرونا دويمه او وژونکې څپه؛

**تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ويروس له کبله د مړو شمېر تر يو ميليون ٦٢٠ زرو واوښت** ۵


## راپورونه: په بېلاروس کې د حکومت ضد لاريونونه ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دي



په بېلاروس کې د حکومت پر ضد د اپوزېسيون لاريونونه ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي. لاريون کوونکي هڅه کوي چې د سياسي امتياز ورکولو لپاره پر اوسني ولسمشر الکساندر لوکاشينکا فشار راولي. دا لاريونونه داسې مهال پراخېږي چې ټاکل شوې د اپوزېسيون مشره سويتلانا تيخانوفسکايا په جرمني کې په ځو مناسبتونو کې راڅرګنده شي. دا د هغې د هغو هڅو يوه برخه ګڼل کېږي چې د بېلاروس د منحصر شوي اپوزېسيون ملاتړ ته د نړيوالو ملاتړ راجلب کړي.

وروسته له هغې چې د روان کال په اګسټ مياشت کې د ولسمشرۍ ټاکنو ګټونکی لوکاشينکا اعلان شو، بېلاروس له سياسي ناکراريو سره لاس او ګرېوان دی. د بېلاروس د اپوزيسيون مشره سويتلانا ځيخانووسکايا وايي، دا يوازې د وخت مسئله ده چې د دې هېواد ديکتاتور الکساندر لوکاشينکا له قدرته لېرې شي. لوکا شينکا چې له ۱۹۹۴ز کال راهيسې يې د دغه هېواد واګې په لاس کې دي، د اګسټ د مياشتې د ولسمشرۍ د ترسره شويو لانجمنو انتخاباتو ګټونکی اعلان شوی دی. ځيخانوسکايا چې د هغه رقيبه وه او د دغو انتخاباتو ګټونکې بلل کېږي، دغه څرګندونې له نيويارکر مجلې سره يې په يوه مرکه کې کړې دي. نوموړې چې ځان د يوه ډيموکراتيک بېلاروس مشره بولي، ويلي چې ښايي په ژمي کې د انتخاباتو د نتيجې پر وړاندې اعتراضونه يو څه کم شي، خو لوکاشينکا به چې له سياسي پلوه مړ دی، حتمن له قدرته لېرې شي.

## امريکا له ۲۷ کلن ځنډ وروسته، سوډان د ترهګرۍ د ملاتړو هېوادونو له نوملړه وايست



د امريکا متحده ايالتونو، سوډان ۲۷ کاله وروسته د هغو هېوادونو له ليست نه وايست چې د ترهګرۍ ملاتړ کوونکي ګڼل کېږي. ولسمشر ډونالډ ټرمپ يوه نيمه مياشت مخکې کانګرېس ته په دې تړاو د خپلې پرېکړې احوال ورکړی و.

له دې پرېکړې سره دې ته زمينه برابرېږي، چې نړيوال په سوډان کې پانګونه وکړي او سوډان له نورو هېوادونو او بنسټونو پورونه واخلي، هغه هم په داسې حال کې چې ډېره زياته اړتيا ورته لري.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ په تېره اکتوبر مياشت کې تر هغې وروسته د ترهګرۍ د ملاتړو هېوادونو له ليست نه د سوډان د ايستلو پرېکړه وکړه، چې دغه هېواد له اسراييل سره د ډيپلوماتيکو اړيکو عادي کولو ته چمتو شو.

سوډان دغه راز ۳۳۰ ميليونه ډالر هم په کينيا او تانزانيا کې د امريکا پر سفارتونو د بمي بريدونو د تاوان په توګه ورکړي دي. په ۱۹۹۸ز کال کې په کينيا او تانزانيا کې د امريکا پر سفارتونو په بمي بريدونو کې ۲۲۰ کسان وژل شوي وو. د دغو بريدونو مسووليت القاعده شبکې منلی و. سوډان چې د القاعده شبکې د پخواني مشر اسامه بن لادن کوربتوب يې هم کړی، تورن و چې د فلسطين د حماس او د لبنان د حزب الله ډلې ملاتړ کوي.

## ده ها کارمند تنقیص شدۀ وزارت معادن و پترولیم خیمۀ تحصن بر پا کردند

ده ها کارمند وزارت معادن و پترولیم، در اعتراض به تنقیص شان دست به اعتراض زده در مقابل این وزارت خیمۀ تحصن بر پا کرده و خواهان شامل بست شدن شان در سال ۱۴۰۰ شدند.

سخی احمد و یک تن از کارمندان تنقیص شدۀ این وزارت، گفت: «رهبری وزارت، عقب در های بسته و بدون در جریان گذاشتن رؤسا و آمرین، تشکیل غیر قانونی را ساخته اند که ۱۲۰۹ تن کارمند را که در تشکیل عمومی ٢٦٦٦ تن بود، از بست های موجود وزارت تنقیص کرده اند.»

موصوف در ادامه افزود که در این وزارت ٦٦٦ بست سفید وجود داشت که آن را تنقیص نکرده اند و از ۲۰۱۹ کارمند موجود، ۱۲۰۹ کارمند را تنقیص کرده اند.

وی مقامات این وزارت را به فرصت کشی متهم کرد و گفت که آنان می خواهند که کمیته تعیینات خویش را تشکیل بدهند.

اما عبدالقدیر مطفی سخنگوی وزارت معادن و پطرولیم گفت که ۲۰۵ تن افراد غیر واجد شرایط در بست های تخنیکی این وزارت ایفای وظیفه مینمایند که با در نظرداشت ظرفیت شان، به منظور ایجاد موثریت در بخش های دیگر موظف میگردند.

وی افزود که ۵۱۲ تن از کارمندان آمریت تفحصات شمال، با در نظرداشت ساحه کاری آنان به اداره تنظیم نفت و گاز افغانستان انتقال می یابند.

عزيزي بانک
Azizi Bank

عزيزي بانک په افغانستان کې د ښو خدمتونو او محصولاتو په پار د ۲۰۲۰ کال د غوره بانک تنديس ترلاسه کړ



په هغو مراسمو کې چې د دريمې کرښې (ليکې) بهير له لوري جوړ شوي و، د عزيزي بانک اجرايوي رييس ډاکټر محمد سالم اُميد د عزيزي بانک په استازيتوب ياد تنديس ترلاسه کړ. ښاغلي اُميد د ياد بهير له ترتيب کوونکو څخه دمننې ترڅنګ د بانک د خدمتونو او محصولات په اړه معلومات وړاندې کړل او د لازياتو آسانتياوو او نوښتونو په رامنځته کولو يې ټينګار وکړ. د يادولو وړ ده چې په يادو مراسمو کې د دولتي چارواکو او پارلمان غړو ترڅنګ د ټولنې د ډېرې برخو استازو ګډون کړی وو.

عزيزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزيزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختيا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بايومتريک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګليسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ ليدل، د صرافۍ خپلکاره ماشين څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پيسې ويستل، د مبايل شمېرې ته پيسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه يې ماشين ترلاسه کول، د مبايل شمېرې ته کريډيټ زياتول، د بل اداينه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه يې له ايستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازياتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړيکه ټينګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

